لیکونکی : ستیفن میلیس (Stephen Miles) .

منبع او دخپریدو نیټه : کمان ډریم «2018-08-22» .

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

-----------------------------------------------------------------------

# په افغانستان کی له ناکامی څخه سترتیا

*The futility of failure in Afghanistan*

**ساده حقیقت خو دا دي چې هیڅ ډول جګړه هغه هیواد یعنی افغانستان ته په سوله را نه وړی کوم چې تر اوسه پوری چې څلور لسیزی شخړی یی لید لی دی ،پس اوس نو هغه وخت رارسید لي دی چي یو څه بل ډول هڅی تر سره کړل شي**



**دامریکی دمتحده ایالاتو دغه داوړدی مودی د نا معلوم جګړی غملړی داستان دهغه هیواد له غرور اوتکبرڅخه دي کوم چې ددوه غبرګ ویاړنو یعنی استثنا یی والی (exceptionalism) اودامپراتوری سره مل دی( انځور دامریکی دپوځ دوهم افسر بګروال « ما یک بردی = Mik Brady » دسمندری د (38) عمومی پیاده نظام دجزوتام قوماندان )**

یو اونی مخکی دافغانستان دغزنی ولایت ښارچې په یو ستراتیژیکی څلور لار کی له (100) میل څخه په لږ واټن کی دافغانستان دپلازمینی کا بل څخه پروت دي دجګړی په اور کی وسوځید اود را رسیدلی راپوروںو له مخی کم تر کمه (400) کسا ن خپل

*ژوند مخکی دمشروط اوربند څخه چې دافغانستان ددولت له خوا اعلام شوی وه دلاسه ورکړی اودبلی خواڅخه تر(۱۵۰) ملکی کسان دښارداورلګید نی په جریان کی دطا لبانو او امنیتی ځواکنو د ښتو له امله ورک او تیری تم شوی دی . او په عین وخت کي په حدود د (300) ما یله لیری هلته په غورماچ کی دطا لبا نو جنګیا لی دافغان یو نظا می پایګاه یا پوسته باند یرغل تر سره کړی چې دهغه په ترڅ کی (۱۴۰) افغا ن سرتیر یی دګولی په چلولو او ضربه کولو سره له پښو غورځولی او یا یی په قتل رسولی او دهغه سره سم په لسګونو نورو افغا نی سرتیری یی ټپیان کړی اود جنګ له قطا ر څخه را ا یستلی دی ۰ دافغانی سرتیری دکلا بندی څخه دری ورځی وروسته طالبانو بی دهغه چې افغانی سرتیری دهغو په مقابل کی مقاومت وکړی او پر طالبانو باندی ګولی وچلوی طالبانو ته تسلیم کیږی او پوسته دطالبانو په واک ولویږی کوم چی طالبانو له دغه پوستی څخه راز راز جنګی تجهیزات سره د (۸) عرادی امریکا یی* ***ها مبوی*** *(Humvees) دغنیمت په بڼه تر لاسه کوی .*

*د (اولس) کا له په اوږدو کي دامریکی د با ند نی سیا ست د نا کا می اود بیهود ګی درسونو دا فغا نستا ن په اړین بیا هم د خبرونو په سرتکی کی قرار لري . اوهغه داچي دامریکی ددری جمهور ریسانو دزمامداری په دوران کی کوم چی دجګړی شکل ته هرډول سمبا لتیا ورکړل لاکن ونشوکړلی چی خپل هد ف ترلاسه کړي یعنی چی په لمړی او اولنی وختونو جګړه ته داسی څیره او بڼه ورکړ کوم چی د ( د ها لیود د بلیک بوستر=Blackbuster) په جګړه مشهوره شوی چي په دی دول جګړه کي پټ عملیاتونه دامریکی دیو وړی ضربتی ګروپ کا رفرما یا نو پواسطه سره د محلی جګړه ما رو سره په مبا رزه کی ترسره شو –داشغال دمودی په وخت کي* ***دبوش*** *دزمامداری په موده کي دامریکی دسرتیری شمیر تر (100) زرو سرتیرو ته ورسول شو اود* ***بارک اوباما*** *دتسلط اودزمامداری په وخت کی د ناتو دقوتونو په شمیره کی زیاتوا لی را غی او اوس بیا د* ***دونالد ترومپ*** *دامریکی دمتحده ایالاتو جمهورریس په تازه ګی سره په ډیر فحاشی بنی سره دامریکی دغه جنګ پراخید وته لمن وهی اودخپل جنګی مشاورانو په لاربښونی سره هوایی بمبا رد ما ن یی سره دوه برابره کړ.*

*اوس دا سی انګیرل کیږي چي په دي جګړه کي امریکا یا نو دپوره ما تی سره مخا مخ دي ، او اوس هغه وخت را رسید لی دي چی با ید ومنو اوهغه داچی د زیات قربا نی اود زیا ت وینو تویولو سره سره دغه نامعلوم اوږد جګړه کی کوم ستر بد لون نه تر سترګو کیږی کوم چی دا پخپله دما تی اود نا کا می ښکاره نښی اونښا نی دي.*

*دامریکی دمتحده ایالاتو دغه داوږدی جګړی غملړلی داستان دامریکی په دوه غبرګ ویاړنی یعنی یوه دامریکی په استثنا یی والی (exceptianalism) او بله د امریکی د ا مپرتوری پر نوم سره مل تا ریخچه لری – سیاستوالو اویا سیا ست جوړونکوډیري*

نسلونو ته دهر ډول ایدیولوژیکی نظریو په لرلو سره له هر ګوښی او کنج څخه اجازه اوبلنه ورکړی چی مخکی له هرڅه نه هغه تریخ درسونوته کوم چي انګلستان اوشوروی اتحا د له افغا نستا ن څخه د خپلو تجا وزاتو په وخت کی زده کړی دی پام وا نه وړی یعنی ورڅخه په آسا نی سره تیر شی اودا باید په نظر کی ونیسوچي افغا نستا ن هغه ځای نه دي چي په آسا ني سره تر ولکی لاندی را شی یا پر هغه با ندی د تسلط منګولی ښخ کړل شي نو ددغه واقیعت په وجود سره بیا هم واشنګتن غواړی چی دیو فرمان په صادرولو سره دخپل تسلط بیرق دهندوکش له لوړو څوکو څخه بیا دهلمند تر رود پوری په رپا ند کی وسا تی نو دهمدی اصل په نظرکي نیولو سره واشنګتن ا و د **فوګی با تو** ( Foggy Bottom = په واشنګتن دی سی کی یوه وړه ښارګوټی دي ) د انرژی په لګښت سره غواړی چی په کا بل کي د خپل ګوډاګي رژیم څخه سا تنه وکړي .

ساده حقیقت خودادی چي هیڅ ډول جګړی په دی هیواد کی سوله نشی راوستلی یعنی هغه هیواد کوم چی څلور لسیزی په جنګ او جګړه کی تیره کړی دي یا ډیر بی ساری شخړی سره لاس په ګریوان شوی دي یعنی دشوروی اتحاد دتهاجم له وخته کال (1979) څخه بیا دجمهور ریس دونالد ترومپ تر اخرنی هڅی اواند دپوره بمب ګذاری سره په دی هیواد کی سوله نه دی برقرار شوی نو اوس داسی وخت را رسیدلی دي چی باید پر یو بل امکان یا الترناتیف باندی فکر اوشی یا یوه بله لاره وازما یل شی .

له نیکه مرغه مونږ شا ید چی په دي نژدی وختونو کي داسی چا نس به تر لاسه کړو لکه هسی چي راپورنه را رسید لی دی هغه دا دی چی **دونالد ترومپ** په نها یت کي مجبور شوی دي چی د طا لبا نو سره په مستقیم ډول دمذاکری دمیز تر شا کینیني ، نو بی ویلو دی پا تي نشی چی د « اوباما د دولت » په دوره کی همد اشا ن مذاکره ددواړو خواو(طالبان اوامریکایان ) دعواملو د ترکیب د تفاوتونو له امله دما تی سره مخا مخ شو اومونږ با ید چی اوس دهغه ډول برخورد او تګل څخه مخنیوی وکړو اوهغه با ورونه کوم چی مخکی امریکا یا ن درلودل لکه (مونږ مجبور اوو چی طالبان دمذاکری د رابللو دپاره پر هغوی باندی بمونو وغورځوو) اویا داچی دا ډیر آسانه دی چی باور وکړو اوهغه داچی مونږ پرطا لبا نو با ندی په کا فی اندازی سره بمونه نه دی غورځولی بلکه ستونزه د افغا نستا ن په دولت کی وجود لری یعنی فساد، بډی اخیستنه اودافغانستان عمومی بیرته پا تی والی اودهغه ناکا رآمد دولت هغه سترعوامل دی کوم چی شا ید په راتلونکو میا شتو کی دا ډول زیا ت نورو ورته ستونزو سره مخا مخ شو.

په هر صورت اوس داسی په نظر راځی چي طالبانو د خبرو اترو یا دمذاکری دپاره پوره تیاری او چمتوالی نیولی دی اودیو ډول کره ستونزو څخه کوم چي په اصطلاح د اسلامی دولت پوری اړین برخه تشکیلول له هغه برخو څخه صرف نظر کړی دي اویا هغه برخی کوم چي د مذاکراتو دپاره دیو خنډ په بڼه وه هغه یی له پامه غورځولی

*دي او په عين وخت کې دونالد ترومپ هم خپل لمړيتوبه په ډاګه کړی کوم چي هغه غواړي چي په ډير بیړه سره له افغا نستا ن څخه خپل سرتیری وباسی ( نو د همدی اصل په نظر کی نیولو سره هغه په نها یت کی د خپل زور دازما یلو د پا ره پراخه او دوچنده بمب ګذاری ته مخه کړی دي ) او غواړي چي په دی ډول ځان خوشحال وسا تي اود بلی خوا څخه **اشرف «غنی»** هم ځا ن متعهد ګڼی چی په افغانستان کی سوله پلی کړی نو دهمدی دلیل پر بنیا د هغه سرکال د لوی اختر په درشل کی یو ډول مشروط متارکه یا اوربند د طا لبا نو په وړاندی سره اعلام وکړ.*

*د بلی خوا څخه داسی په نظر راځی چی کنګره په دغه مبارزه کی ونډه واخلی او ډیر لیری ښکا ری چي جمهوریخواها نو په کنګره کی دموجوده وضیعت په نظر کی نیولو سره دجمهوریخواه جمهور ریس په وړاندی خنډ ونه و زیړوی اوداځکه چي ممکن کنګره په مینځ دوره ایی ټاکنو کی دیولړ تغیراتو سره مخامخ شی یعنی چی ددی احتمال شته چی ددموکراتانواستاذی دجرګی کنترول په غاړه واخلی نو که چیری هغوی غواړی چي په حقیقت کی بی له سره قد رت تر لاسه کړی. نو په هغه صورت کی هغوی کم ترکمه به دمذاکراتو یا د د بیلما سی سره به مخا مخ شی – نو په دی بنیاد هغوی یعنی دموکراتانو دا فرصت لری چی قانون (یعنی هغه ډول وضیعت کوم چي په نظر نه راځی چي په آسا نی سره مات یا په بل شکل سره واړول شی شی ) مات کړی هغه قانون چی جمهوریخواها نو دهغه ما تول نه غواړی کوم چی حتی د جمهوری خواهانو مشرتابه په افغانستان کی دڅو کلونو دپاره دقانون اودرای ورکونی په اړوند اسا سی را یا (VOTE) ردوی .*

*که چیری دا سی اتفاق ولویږی نو د دموکراتا نودپا ره انتخاب به ساده اوآسا نه وی ، د بیلما سی به دوه برابره شی اودما لی یا د نقدی پیسو په فشا ر سره به داجګړه پای ته ورسیږي اود جګړی پر ځای به د سولی در اوسئلو اود دوستا نه بشری کمکونو په کولو او سرما یه ګذاری سره دا جګړه به ختمه شی او هر هغه څوک چی خبرونه اوری هغوی زمونږ دما تی اودناهیلی توب خبره دافغانستا ن په دی روانه جګړه با ندی به پوه شی اویا داچی دیوی بلی جګړی دزور ازما یی دپاره چمتوالی ونیول شی نو راځی په دی هیله اوسو چی دموکراتا نو د ا فرصت تر لاسه کړی .*

*«2018-08-25» په درنا وي* ---------------------------------